AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوارسنگروال

۲۰۲۳/۰۹/۲۵

# که انسان نه وي تاریخ به نه وي

## ۲مه برخه

### افغانستان، له تاریخ نه د مخه پیر

په تولنه کې تاریخپوهانو د تاریخي پیرونو ویش ته پدې ډول ګوته نیولې، چې د لیک له پیدایښت نه د مخه دوره یې له تاریخ نه وړاندې پیر او کله چې انسان د لیک لوست په موندلو بریالي شویدي نو بیا یې د تاریخ پیر ګڼلی دی.
ټولنپوهان د یو شمېر ټولنیزو مناسباتو له مخې انګېرې ،کوم بدلونونه چې د یوې ټولنې په سیاسی، اقتصادي او کلتوري برخو کې مینځته راځي له نورو ټولنو سره کټ مټ یو شان نه وي.
نو ځکه خو پدی بنسټ ویلي شو، چې دغه ویش په ټولی نړۍ کې یو وخت د تطبیق وړ نه دی ځکه لیکدود اولیک لوست په ټوله نړۍ کې یو وخت ندي پیدا شوی. او یا ښایي یو شمېر لیکونه که هغه انځوریز وي یا نیمه انځوریز او یا هم له اوسني لیکدودونو سره ورته وی ،نه وي لوستل شوي او په راتلونکي کې ښايي ولوستل شي، نو د هر پیر ټاکلی زمان به بدلون وموموي.
د مثال په ډول د فرانسي لرغونپوهانو تر اوسه پورې په بېلابیلو وختونو کې د مصر ګڼ شمېر لرغوني لیکونه لوستي او د هغه هېواد د تاریخ ډېر تیاره ګوټونه یې روښانه کړیدي.
لرغونپوهانو همدارنګه په لرغوني ایټالیا او کوچنۍ اسیا (صغیره اسیا) کی هم یو شمېر توکي موندلي دی ، چې له تاریخ نه د مخه پیر په ګوته کوي او دا ښیي چې دوی خپل خپل لیکدود درلود او وروړو چې دغه توکي او ډېر لیکونه ولوستل شو نو تاریخي پیر ته یې لاره پرانسته.
لرغونپوهان پدې اند دي چې د ۳۰۰۰ او ۳۳۰۰ مخزیږ دي (ځنې ۳۵۰۰-۳۰۰۰ ښي) په شاوخوا کې انځوریز او غږیز لیکدود په مصر او بین النهرین کې پیدا شوی، چې پدې حساب له تاریخ نه وړاندې پیریې (pre history) د نړۍ له یو شمېر ټولنو سره توپیر لري.
که څه هم تاریخپوهان (ارکیالوجستان) چې کله غواړي د یوې ټولنې تت او تیاره ګوټونه روښانه کړي. نو له هر څه لومړی د هغې ټولنې د کار او تولید وسیلې، توکی او د ژوند د اسانتیاوو الات او افزار تر څېړنې او پلټنې لاندې نیسي.
یوه المانې تاریخپوه پخپل کتاب چې د المان ایډیولوجی نومیږي کښلي دي ، ښايي د انساني شعور پرمختیا او ودې یا نور انساني توکي او یا هم ځنی ځانګړتیاوی وي چې انسان یې له نورو حیواناتو څخه بیل کړي دی، که موږ دا وڅېړودي پوښتني ځواب تر لاسه کولی شو، چې «تاریخ کله مینځته راغلی دی؟»
دی وړاندی لیکي همدغه د ژوند وسیلي او افزار دي، چې انسان له یوې خوا ځان له نورو ځاروییو او ژیو څخه جلا کوي او له بلې خوا یې راتلونکي زماني ته تاریخی اسناد په میراث پرې ایښی دي.
دوی په ډېرینو توکو له یوې خوا د ځان دفاع وکړه او له بلې خوا یې د ژوند د اسانتیاو توکي رامینځته کړل ، نو د دی اند پر بنسټ انسانیت او تاریخ دواړه په یوځای مینځته راغلي دي.
د اروپا او برتیاني یو شمېر لرغونپوهانو هم د وروستیېو څېړنو له مخې یو شمېر اسناد تر لاسه کړي دي چې وایي، د انسان له پیدایښت نه خلور سوه زره کاله تېرېږي.
نو که بیا داسي وي د تاریخ پیدایښت هم له همدې شیبې پیلیږي، ځکه چې ګڼ شمېر تاریخپوهان پدی اند دي چې د تاریخ پیدایښت د انسان له پیدایښت سره متناسب دی. له تاریخ نه د مخه پیر لرغونپوهانو په ټوله کې په دوه برخو وېشلی دي. ۱- د ډبرې دوره ۲- د فلز دوره


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

لومړی ارکیالوجستانو او تاریخپوهانو چې بېلا بېلو وختو کې د کار وسیلې، افزار او توکي له لرغونو انسانانو نه راپاتې الات تر څېړنې او غور لاندې ونیول، له اوږدې پلټنې دې پایلې ته ورسیدل، چې له تاریخ نه پخوا د ډبرې پېر باید په درې برخو وویشي:

**۱-لرغوني ډبره (plastic):**

د لرغونې ډبرې پېر د انساني ټولنې په تاریخ کې یوه اوږده دوره ګڼلی کیږي، چې انسان د ژوند ټول توکي، وسلې او وسیلې د کار او تولید وسایل له ډبرو څخه جوړول.

په سر کې اقلیم او هوا د کرهنې لپاره غوره وه، ولې د وخت په تېریدو هوا هغه مهال سړه شوه چې د شمال سړو څپو د نړۍ جنوب لورته مخه کړه ځاروېو او ژوو ته یې ډېر زیان ورسو، ولې انسان د دی ځواک ومومند، چې ژوند ته ادامه ورکړي او له هر ډول سړوخی ، تودوخې او چاپېریال سره مقاومت او مبارزه وکړي.

دوی د ځان د ژغورنې لپاره د ځمکې په لوړو برخو کې ځانته خوندي ځایونه وموندل په سمو څو او غارونو کې ځای پر ځای شول.

له تاریخ نه پخوا پېر کې د نړۍ په ټولو انسانانو کې د ژوند دغه بڼه په لږ توپیر یو شان وه. له هغو توکو نه چې دوی د ژوند کولو وس پیدا کوه ګټه اخستل شوېده. د ساري په توګه هغه ډبره چې د ټوټلو وړتیا یې درلوده د نړۍ هر انسان له هغې ډبرې نه د ژوند وسیلې او وسلې جوړې کړیدي. یا د ډبرې په پېر کې هغه ډبرې چې پخپلو کې موښل کېدې بیا ترې اور پیدا کیده هرې ټولنې هغه ډبرې کارولې دي، بېلابېلو لرغونپوهانو د خپل فکر او اند له مخې د ډبرې دغه دوره په دوه برخو وېشلې (لرغوني ډبره، معاصره یا نوی ډبره) ځنو بیا په دریو (لرغوني، منځنی او نوی ډبره) او ځنو هم د لومړې دبرې- پخوانۍ ډبرې- مینځنی ډبرې او نوې ډبرې نوم ورکړېدی.

دوئ ځکه د لومړۍ ډبرې نوم ور زیات کړیدی، چې ځنې ډبرې په طبیعي بڼه جوړې وې، چې لومړني انسان د خپل ژوند د بقا لپاره ترې ګټه اخستلې شوه ، چې په درې نورو دورو ، ان د ډبرې تر توږلو او صیقل پورې انسان تصرف پکی متصور دی.

**۲- مینځنی ډبره:**

یو شمېر لرغونپوهانو دغه پېر د «۴۰۰۰۰» مخزیږ دي نه راواخله تر «۱۲۰۰۰» مخزیږ دي پورې اټکل کړیدی.
د ډبرې دغه پېر د ډبرې له لومړي پېر څخه توپیر لري، یو شمېر داسې وسیلې مینځته راغلې، چې په تېر پېر کې ساری نه تر سترګو کېده ،لکه د غېشو جوړول او ویشتل، په انفرادي ډول د ځاروېو ښکار، په طبعی ډول اقلیمي بدلون، د سړوخې کمښت، د ځنګلو پیدا کېدل، د یو شمېر وحشي ځاروېو اهلي کېدل، چې موږ سپی د ساري په توګه یادولی شو، وریېسې، پسونه، اوزې، اسونه او نور...

موږ د اوزې یادونه وکړه، د لندن په موزیم کې د اوزې یو انځور شتون لري، چې د بدخشان یادونه په کې شویده او کښل شوې، چې په دغه سیمه کې د اوزې یو پېر تیر شوې دی چې انسان ترې هر اړخیزه ګټه اخسته، چې اوزې به یې په سمو څو اویا بانډوکې چې د شپول بڼه یې درلوده ساتلې، له پیو ، اوزغنو او پوستکو یې د ژوند اړتیاوې پوره کولې.

په دغه پېر کې وړورو انسانانو ځانونو ته د استوګنو ځایونه جوړ کړل چې له ډبرو او لرګیو به یې ګټه اخسته.
په ځنګلونو کې ښکار بڼې بدلون وموند، د تېر په پرتله د ښکارو سیلې نوی شوې او له دې سر بېره د ماهېیو ښکار هم دود وموند. نه یوازې د ښکار له غوښونه استفاده کېده بلکې د ځاروېو له هډوکو نوې وسیلې او وسلې جوړې شوې، چې دغو اسانتیاو د انساني ټولنې په رغښت او پایښت ګټوره اغیزه وکړه.

د خوړو لپاره، میوې او یو ډول سابه هم وکارول شول او د اور پیدایښت د انسان د ښه ژوند لپاره د تېر په پرتله یو ښه زیری وو. که څېرې اور نه وی ښایي د هغه وخت ټولنیز تمدن به په دومره چټکې وده نه وې کړې. همدغه د اور موندل ول چې راتلونکي پرمختګ ته یې لاره اواره کړه.

که څه هم دغه وروستي پرمختګونه لکه دسابو او میوو خوړل، داور پیداینت او نور د تېر پېر په وروستیو کې رامینځته شوي ول، خو د ډبرې په مینځني پېر یې ډېره ګټوره اغیزه وکړه.

**۳- د ډبرې نوی پېر:**

له تاریخ نه د مخه دغه پېر، د ډبرې په تاریخي بهیر کې ډېر د پام وړ ځکه وه، چې دغې دورې یوه ډېر نوي پرمختللي بهیر ته لاره پرانسته، چې انساني ژوند یې له ډېرو بلاوو خوندي کړ.

یو شمېر تاریخپوهان پدې اند دي چې د نوې ډبرې پېر د ۱۲۰۰۰ ق م نه نیولی تر ۶۰۰۰ مخزیږ دي پورې رسیږي، چې پدغه پېر کې، انسانانو داسې توکي، د ژوند وسیلې او وسلې تر لاسه کړي، چې په تېرو کې ساری نه لیدل کېده.
ځنې لرغونپوهان پدې ټکي ټینګار کوي، چې د انسان لومړنی ټولنیز تمدن هم د نوی ډبرې له بهیره پیلیږي.

د ډبرې دغه دوره، چې له نورو پېرونو څخه بېلوي یو مهم پرمختګ د ډبرې صیقل او توږل دي، چې له دغې ډبرې یې تبرونه، تبشې، چړې، لور، ګولنګ او نور شیان یادولی شو، جوړ کړل چې د دغو توکو او وسیلو په برکت یې کرهنې ته لاسرسی وموند.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د کرهنيزې ودې اوپرمختګ په پایله کې د غلي داني د ميده کولو لپاره لاسي مېچني هم جوړی شوې چې بيا د اوړو ځخه ډوډی تیاره شوه. په دغه پیر کې تر ډيره بريده پورې داسي د استوګنو ځایونه جوړ شول چې بيا نو انسانانو د موسم په بدلون کډې او هجرت کولو ته اړتيا نه درلوده چې له يوې سيمي نه بلې سيمی ته لاړ شي، ځکه دوئ پخپل زيار کولی شول چې خوندي چاپېرياْل د ځان لپاره تيار کړي. خوني تودې کړې، خواړه ځانته چمتو کړي، زخېرې ځانته جوړې کړي او داسي نور توکي چې ژوندي پاتې شي.
په دغه بهير کي ختين او ډبرين لوښي هم مينځته راغلل ، هغه مهال چي د ډبرې په نورو پيرونو کي د ځاروېيو له پوټکو او پوستکو نه او يا د يو شمېر ونو له پوټکو ځخه انسانانو د ځان لپاره د ځان پټولو ګټه تري اخسته پدغه دوره کې د ځاروېيو له وړ يو او زغنو ځخه د يوې څرخي پر مټ تارونه ورېسل کيدل او يا او بدل چې په پای کې يي ترې وړين ټوکر تيار کړل.
له دي سر بېره، کوم ټولنيز انقلاب، چي د دغه پير په پاې کي مينځته راغی او يو ډېر پرمختللي پير ته لارپرانسته ،هغه د فلز دوره وه، چي د انسان په اقتصادی او کلتوری ژوند کي ژور بدلون رامينځته کړ.

**د فلزاتو دوره**

د ډبرې له وروستي پير نه وروسته د بشري ټولني په تاريخ کي يوه نوې پرمختللي دوره، چي د فلز دوره يي بولي ،چي له تېر سره د پرتلې وړ نه وه مينځته راغله.
پدغه وخت کي ورورو د کار وسيلی ، وسلې او توکي د ډبرې پر ځاي له فلزاتو نه جوړ شول، چي د چاپېرياْل په بدلون کی ستر رول ولوبوه او د تمدن په تاريخ کي يوه نوې پاڼه واړوله،چي يو نوی ګام يي ګڼلی شو.
لکه څرنګه چي د ډبرې پير مو په لويه کي په درې برخو وويشه دارنګه د فلزاتو دوره هم په ټوله کي په درې برخو وېشلی شو:

**۱- مس:**

د مخه تر دي، چي د مسو په موندلو خبرې وکړو، ويلی شو چي د بشر په تاريخ کي لومړني توکي چي د فلزاتو له کورنی نه تر لاسه شول هغه سره زر وو، چي له رودونو، سيندونو او سمندرونو ځخه تر لاسه شو.ورپسي سپين زر وه، ولي پدې توپير، چي سپين زر له معدنياتو نه  ترلاسه شول.
دغه دواړه توکي د ګاڼو په توګه کارول کېدل، چي نرو ښځو به د ځان د ښکلا لپاره استعمالول.
ولي له مسو ځخه د وسيلو او وسلو د جوړولو کار واخستلی شو، چي د موندلو موده يي له مخزيږ دي نه ۴۰۰۰ کاله د مخه اټکل شوي، ځنې ځېړونکي يي له مخزيږ دي نه ۵۰۰۰ کاله د مخه ښيیي ،چي دغه موهم فلز تر لاسه شو او ګټه تري واخستل شوه.
مس په ختيځو  هيوادونو کي د لومړي ځل لپاره د اکسوس په حوزه کي، بيا په کېکاس کي (۶۰۰۰ مخزيږ دي) په مصر کي (۵۰۰۰ مخزيږ دی)، د خزر سمندر کی او پارس خليج کي (۴۰۰۰ م ز) وموندل شو.
په ټوله کي د ۴۰۰۰ مخزيږ دي به شاوخوا يو شمېر اسيايي هيوادونو او د ۳۰۰۰ م ز کال په موده کي اروپايی هيوادونو د دی وس وموند چي له مسونه استفاده وکړي اوهمدارنګه د مصر، فلسطين، عراق، افغانستان، هند، چين او وړوکي اسيا هيوادونو د کرهني په برخه کي د مسو له وسيلونه ګټه واخستله.

**۲- برونز:**

د هغه مهال انسانانو د خپلو سيمه ييزو مهارتونو له مخي او د لاسي صنعت پر مټ داسي وسيلي جوړ کړې، چي په هغه کي د موندل شوو توکو له ويلي کيدو نه وروسته به يې يو شمېر لوښي، وسلې او وسيلي جوړولي چي د دوئ په ژوند کي رغنده رول ولوبوه.
دوی داسي بټۍ او د سکرو نغري جوړ کړل، چي په ډېرې اسانئ يي فلز ويلي کولی شول. دوی د خپلو تجربو له مخي وليدل، چي مس هغومره مقاومت نه درلود، چي د دوی ټولي اړتياويي او ضرورتونه پوره کړي نو بيا يي قلعی له مسو سره په همغو بټيو کی ګډ کړل او د برونز پنوم يو داسي فلز يي رامينځته کړ،چي موږ د مثال په ډول چلمچي او کوزه يادولی شو، چي اوس هم د برنجي لوښو پنوم يي ډېرې ښې نښاني تر سترګو کيږي.
د کسبګرو دغه نوښت، چي به يو شمېر اسيايي هيوادونو کي له مخزيږ دي نه ۳۰۰۰ کاله د مخه و پالل شو، د انسانانو په ژوند کي ډېرې اسانتياويي رامينځته کړي، چي بيا همدغه تجربه له مخزيږ دي نه ۲۰۰۰ کاله وړاندي په اروپا کي عملي شوه.
کوم ځېړونه او د ژوند توکي چي له دغه فلز نه تر لاسه شول، د بېلګي په توګه يو شمېر لوښي، د ښکار وسيلي لکه چاقو، چړې ... د بزګری لپاره لور، کولنګ، تېشه يا ترخځ، تبر، د خپل مينځي جګړو لپاره توری ،چړې او نور يادولی شو.
که ځه هم د بشر په تاريخ کي يادو توکو، يوه ژور بدلون ته لاره پرانسته ولي بيا هم قلعي دومره ډېره نه وه، چي د دوی ټولي ستونزې له مينځه يوسي، نو ځکه خو د دغو ابزارو په څنګ کي له ډبرې، لرګيو او هډوکو نه هم دور ته توکو د جوړولو استفاده کېده.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

مس او قلعي د هغه مهال موهم سوداګريز توکي ول، چې د اوسني افغانستان په يو شمېر سيمو، ايران، دجله و فرات، نيل رود، په وړوکي اسيا (اسيا صغير) يو شمېر نورې سيمې د ساري په توګه يادولی شو، چې تر لاسه کېدل .
دغو توکو نه يوازې په سوداګريزو چارو کې د پام وړ پرمختګ رامينځته کړ، بلکې په لاسي صنعت، اقتصادي پرمختيا او پراختيا او په ټوله کې د کرهنې ودې او پرمختګ ته يوه غوره لاره اواره کړه.
پدې سره هغه شمېر وګړي چې له دې نوښت نه د مخه به له يوې سيمې بلې سيمې ته د موسم په بدلون کوچېدل، له دې وروسته دوئ د کرهنې لپاره ځمکې ابادې کړې، د استوګنې دايمی کورونه جوړ کړل، د ځارويو لپاره يې ځر ځايونه په نښه کړل او لنډ ه دا چې انسان د همدغو هلوځلو په ترڅ کې اوسپنه کشف کړه.

**۳: اوسپنه:**
د اوسپنې د پېداينت په مهال اوموکه، چې کوم بدلون د بشري ټولني په تاريخ کې مينځته راغلی تېر سره د پرتلې وړ ندی.
که څه هم تر اوسه پورې ټاکلې نېټه تر ګوتو شوې نده، چې اوسپنه کله او چېرته د لومړي ځل لپاره وموندل شوه، خو داسې نښې نښانې تر سترګو شويدي، چې يو شمېر ځېړونکي انګېري چې ښايي له مخزيږ دي نه ۱۴۰۰ کاله د مخه اوسپنه کشف شوې وي .
لکه موږ چې د برنج فلز يادونه وکړه، دارنګه د ځانګړې تودوخې له مخې به سکاره د اور په نغري کې له اوسپنې سره يو ځای واچول شول او بيا به اوسپنه دومره سره شوه چې د څټک په وسيله به ترې ډېرې د کار وسيلې جوړېدې چې د انسان په ژوند کې داسې ژور بدلون او انقلاب راووست چې د مخه يې ساری نه ليدل کېده، لکه چړې او توري، د کاليو ګندلو ستنې، د کرهنې لپاره کولنګ، بېل، دسپاری پال، د نجاری لپاره ميخ، څټک، آره او نورې وسيلې د بېلګې په توګه يادولی شو.
د اوسپنې له پيدا کېدو سره جوخت د هر چا او هر کسبګر دندې او ځانګې بېلې شوې. د مثال په ډول اهنګرانو به له اوسپنې څخه د کار وسيلې جوړلې، او نجارانو به له لرګيو څخه د کورونو دروازې، کړکې او هغه توکي او ابزار، چې د اوسپنې له لاسي صنعت سره مرسته کوله جوړول. يانې که دوی به د يوی او قلبې وسيلې. له لرګيو څخه جوړولې، نو اهنګرانو به پال، بېل، چاړی ، ښاخی او لسګونه توکي يو د بل په همکاری جوړول.
له دېنه د مخه که به له لرګيو څخه د کار وسيلې، يو شمېر لاسي فابريکي او کار ګاوې جوړيدی ، د اوسپنې له پيداينت نه وروسته د لرګيو په پرتله داسې اوسپنيزې کار ګاوې جوړې شوی، چې د څومره والي او څرنګوالي له مخې پر مخ تللی وې اوان تر دې چې خبره د ټوکرانو او بدلو او د کښتئ تر جوړېدو پورې ورسېده.
د اوسپنې پيداينت د ټولنې په سياسي، اقتصادي او کلتوري چارو کې بنسټيز پرمختګ ته لاره پرانسته، کرهنې پراختيا ومونده، ويالي او ابتدايي کانالونه د خلکو پرمټ او د اوسپنيزو وسيلو په برکت ووېستل شول.
دغو ټولو بدني او فزيکي کارونو د انسان په ذهن او شعور اغيزه وکړه له ډېرو هڅو او اندونو وروسته انسان پدې فکر کې شو، چې څرنګه کولی شي خپلی تجربې راتلونکی نسل ته په ميراث پريږدي؟
په پای کې انسان پدې بريالی شو چې ليک وکاږي، له تېرو نه يې زده کړې او راتلونکی پير اودورې ته يې ولېږدوي.
ليک د بشر په تاريخ کې داسې ستر خوځښت او پاينت ته لوری ورکړ، چې ان له تاريخ نه د مخه پير ته يې د پای ټکی کېښود او انسان د خپل ژوند نوی تاريخي دوره او پير پيل کړ.
مخکې تر دې چې دتاريخی پيرپه بېلابېلواړخونوبحث وکړواودا په ګوته کړو،چې تاريخي پيردڅرنګوالي اوڅومره والي له مخې کومې ځانګړتياوې لري ؟ ښه به وي چې لومړی وګورو،افغانستان له تاريخ نه دمخه دوره کې دکومو فزيکي،جغرافيوي ،اقتصادي اواجتماعي ځانګړتياو درلودونکی وو؟! (پاتې نور)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ